هفته واره رساله

تقریباً 34 کاله پخوانے بیان

# د جنّت سپرلي

- د جنّت ښېزونه
- د ګند نه پاک ښائے
- 10 زره خادمان
- د ټولو نه کمې درجې والا جنّتي


شیخ طریقت، امیرِ اهلِ سنت، بانيِ دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د جَنَّت سپرلي [1]

دُعائے عطّار: يا الله پاکه! څوک چې دا رساله " د جَنَّت سپرلي " ولولي يا واوري هغه پهٔ خپل رحمت د مور او پلار او د خاندان سره بے حسابه اوبخښې-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## د دُرُود شريف فضيلت

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې پهٔ ما باندې پهٔ ورځ کښې زر [1000] کرته دُرُودِ پاک لولي، هغه به د هٰغه وخته پورې نهٔ مرِ کيږي تر څو پورې چې هغهٔ پهٔ جَنَّت کښې خپل مقام اونهٔ ويني-" (جامع الاحاديث، 268/7، حديث:22354)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ على مُحَمَّد

## د جَنَّت سپرلي

حضرت سَيِّدُنا عبدُ الله بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: د قيامت پهٔ ورځ باندې به ټول خلق پهٔ پل صراط باندې راجمع وي او د دوزخ نه ګير چاپيره به ولاړ وي بيا به د خپلو خپلو اعمالو مطابق پهٔ پل صراط تيريږي، څهٔ د بجلۍ پهٔ شان، څهٔ د هوا پهٔ شان، څهٔ د مرغو پهٔ شان، څهٔ د تيز رفتاره آسونو پهٔ شان، څوک د ښهٔ اوښانو پهٔ شان او څهٔ د منډه وهونکي انسان پهٔ شان- پهٔ پل صراط باندې اخري

[1] ... دا بيان د شيخِ طريقت اميرِ اهلِ سنّت، باني دعوتِ اسلامي حضرتِ علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رَضوي ضيائي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ 17 جمادي الاولیٰ 1413ھ بمطابق 13 نومبر کال 1992ء د دعوتِ اسلامي پهٔ اوّلين مدني مرکز جامع مسجد ګلزار حبيب کراچۍ کښې د عاشقانِ رسول پهٔ هفته واره د سنتو اجتماع کښې کړے وو- کوم چې المدينة العلميه " شعبه بياناتِ امير اهلِ سُنَّت" جوړ کړے دے-

تیریدونکے انسان به د ښپو د دواړو غټو ګوتو برابر پۀ تنګ ځائے باندې تیریږي، هغه به ښوئیدنده وي او هغه به د تورې پۀ شان تیرۀ هم وي- فرښتے به د پل صراط پۀ دواړو طرفونو باندې د وور د کونډو سره موجود وي پۀ کومو چې به هغوئي خلق راښکي، ځینې خلق به ترینه بچ تیر شي، ځینې به زخمي کیږي او غورځیږي به او ځینې به پۀ وتو کښې کامیابیږي-

د ټولو نه اخري ګس کوم چې به پۀ پل صراط باندې پۀ تیریدو کښې کامیابیږي، د هغۀ مخې ته به د جَنَّت یوه دروازه کولاؤ کړے شي، هغه به پۀ جَنَّت کښې د ځان د پاره نعمتونه اونۀ ویني نو هلته به کښیني او عرض به اوکړي: اے اللّٰه! تۀ ما ته دلته د کیناستو اِجازت راکړه- جواب به ورکړے شي: که تا ته اجازت میلاؤ شي نو نور څۀ سوال خو به نۀ کوې کنه؟ هغه به عرض اوکړي: اے اللّٰه! زما دې ستا پۀ عزت او جلال قَسم وي! هیڅ سوال به نۀ کووم نو هغۀ ته به هلته د پاتې کیدو اجازت ورکړے شي- بیا به هغۀ ته د جَنَّت منزلونه ښکاره شي نو هغه به عرض اوکړي: اے اللّٰه! ما هلته ورسوې، اِرشاد به وشي: هلته چې ورسې نو بیا خو به څۀ نۀ غواړې؟ عرض به اوکړي: اے اللّٰه! زما دې ستا پۀ عزت او جلال باندې قَسم وي! بالکل نۀ، بیا به هغه هُغه منزلونو ته ورسولے شي- هلته چې ورسي نو هغۀ ته به د جَنَّت نور سپرلي پۀ نظر راشي نو د اللّٰه پاک پۀ بارګاه کښې به بیا عرض اوکړي: اے اللّٰه! ما هلته ورسوې نو هغه به هلته هم ورسولے شي- هلته به هغه د جَنَّت نور نعمتونه ویني خو دا ځل به هغه سوال نۀ کوي- هغۀ ته به ووئیلے شي: اوس تۀ سوال ولې نۀ کوې؟ عرض به اوکړي: ډیر سوالونه مې اوکړل اوس ما له پۀ نورو سوالونو کولو شرم راځي- د اللّٰه پاک رحمت به پۀ جوش کښې راشي او ارشاد به وشي: مونږ تا له پۀ جَنَّت کښې د ټولې دُنیا همره بلکې د هغې نه هم لس چنده زیات در عطا کړل او دا ګس به پۀ جَنَّت کښې د ټولو نه پۀ کمه درجه کښې وي-

حضرت سَیِّدُنا عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: نبیٔ اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې به کله دا واقعه بیانوله نو دومره به مُسکے کیدو چې د هغوئي د جامې غاښونه به پهٔ نظر راتلل- (تنبیه الغافلین، ص42، حدیث:76 ماخوذاً)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پهٔ جَنَّت کښې د الله پاک داسې نعمتونه دي کوم چې نهٔ د چا سترګو لیدلي دي او نهٔ د چا غوږونو اوریدلي دي د هغوئي نه علاوه چا ته چې یې الله پاک وښائي- (مسلم، ص1162، حدیث:7133) لکه څنګه چې د نبیانو د سرتاج، صاحبِ معراج صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د معراج پهٔ شپه پهٔ خپلو مبارکو سترګو باندې هغه ولیدل- (بخاری، 2/416، حدیث: 3342) بهر حال د جَنَّت نعمتونه لازوال دي، د هغې حقیقت الله پاک ته معلوم دے او پهٔ روایتونو او حدیثونو کښې چې د جَنَّتي نعمتونو کوم مثالونه بیان کړے شوي دي هغه صرف د پوهه کولو د پاره دي- جَنَّتیانو ته به پهٔ جَنَّت کښې څهٔ انعامونه میلاؤیږي؟ پهٔ دې باره کښې واورئ او د جَنَّتي نعمتونو د حاصلولو د پاره ښهٔ ډیر اعمال اوکړئ-

## جَنَّتي ته به 72 ښځې ورکولے کیږي

جَنَّتي ته به پهٔ جَنَّت کښې دوه اویا (72) ښځې ورکولے کیږي-

(ابن ماجه، 4/539، حدیث:4337)

## جَنَّتي ښځو ته به څومره سرې میلاؤیږي؟

بعضې وخت جاهلان یا د ضرورت نه زیات تعلیم یافته نیم هوښیار خلق د مذهبي خلقو د پریشانه کولو د پاره داسې قِسمه پوښتنې کوي چې پهٔ جَنَّت کښې

به سړو ته 72 ښځې ورکولے کېږي نو دا خو ووايئ چې هلته به ښځو ته څومره سړي ورکولے کېږي؟ [1]

پۀ دې باره کښې عرض دے چې دا پوښتنه د ډېر جهالت او د ذهني ګندګۍ نتيجه ده، که مسلمان وي او که غير مسلمه، پۀ دُنيا کښې مشکله ده چې داسې قوم وي کوم چې دا خبره خوښوي چې د يوې ښځې ډېر خاؤندان وي- چې پۀ دُنيا کښې خلق دا نۀ خوښوي چې د يوې ښځې د پاره دوه دوه خاؤندان وي نو بيا به پۀ جَنَّت کښې څنګه کيدے شي چې د يوې ښځې د پاره ډېر سړي وي!

## د جَنَّتي زنانه حُسن او ښکلا

جَنَّتي زنانه که چرې دُنيا ته وګوري نو ټوله دُنيا به د نُور نه ډکه شي او پۀ خوشبوئي باندې به معطره شي او د سپوږمۍ او نمر رڼا به هم لا ړه شي- د جَنَّتي زنانه لوپټه د دُنيا وما فيها (يعنې دُنيا او څۀ چې پۀ دُنيا کښې دي د هغې) نه بهتر دي- (بخاری،264/4،حديث:6568) پۀ يو روايت کښې داسې دي: که د جَنَّت حوره خپل د لاس تلے د زمکې او اسمان ترمينځه راوباسي نو د هغې د حُسن پۀ وجه به مخلوق پۀ فتنه کښې اخته شي او که هغه خپله لوپټه ظاهره کړي نو د هغې د ښائست پۀ مخکښې به نمر داسې شي لکه د نمر پۀ مخکښې ډيوه- (فتح الباری،378/12،تحت الحديث:19ماخوذاً)

## د جَنَّتي څيزونو ښکلا

که د جَنَّت څۀ څيز د نوک برابر هم پۀ دُنيا کښې ظاهر شي نو زمکه او اسمان به پۀ هغې ښکلي شي او که چرې جَنَّتي کړه(ښنګړے) ظاهره شي نو هغه به د نمر رڼا داسې ختمه کړي لکه څنګه چې نمر د ستورو رڼا ختموي- (ترمذی،4/241،حديث:2547ماخوذاً)

[1] ... ښځو ته به پۀ جَنَّت کښې د هغوئي هُغه خاوندان ورکولے کېږي د کومو چې هغوئي پۀ نکاح کښې وې، پۀ شرط د دې چې خاؤند يې هم جَنَّتي وي- که چرته د يوې زنانه خاؤند جَنَّت ته نۀ وي تلے نو هغه به يو بل جَنَّتي ته پۀ نکاح کړے شي- دغه شان چې کومې ښځې نا واده کړې وفات شي هغه به هم پۀ جَنَّت کښې چا نارينه ته پۀ نکاح کړے شي-

## د جَنَّت پراختيا

جَنَّت څومره پراخه دے؟ دا اللّٰه پاک او د هغهٔ خوږ رسول صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته بهتره معلومه ده البته اِجمالي بيان دا دے چې پهٔ جَنَّت کښې 100 درجې دي او پهٔ هرو 2 درجو کښې دومره فاصله ده لکه څومره چې د زمکې او اسمان ترمينځه ده- (ترمذی، 238/4، حدیث:2539) د ترمذي شريف يو بل حديثِ پاک دے: که ټول عالم پهٔ جَنَّت کښې پهٔ يوه درجه کښې جمع شي نو دا د ټولو د پاره پراخه دے-

(ترمذی، 239/4، حدیث:2540)

## د جَنَّتي وَنې غټ والے

پهٔ جَنَّت کښې يوه ونه داسې ده د کومې پهٔ سورې کښې چې د سلو [100] کالو پورې پهٔ يو تيز اَس باندې ناست سړے مزل کوي نو بيا به هم د هُغه وَنې سورے ختم نشي- (مسلم، ص1163، حدیث: 7138)

## د جَنَّتي دروازو پراختيا

د جَنَّت دروازې به دومره پراخه وي چې د يو سر نه پهٔ اَس سور مزل شروع کړي او د 70 کالو پورې يـې زغلوي نو بيا به هم بَل سر ته اونهٔ رسي- (مُسندِامام احمد، 475/5، حدیث:16206) جَنَّتي دروازې پهٔ لکونو ميله پلنې وي خو د دې باوجود به جَنَّت ته د تلونکو دومره رش وي چې خلق به اوږګا په اوږګا جنت ته ځي-

(ترمذی، 245/4، حدیث: 2557 مفهوماً)

## د جَنَّت سينګار او ښکلا

پهٔ جَنَّت کښې د لعلونو او ملغلرو محلونه دي کوم چې به دومره صفا او شفاف وي چې د بهر نه به دننه او د دننه نه به بهر پهٔ نظر راځي- (مُسندِامام احمد، 583/2، حدیث:6626)

د جَنَّت دروازې د سرو زرو او سپينو زرو د خختو او د مشکو د خَټې نه جوړې شوې دي، ”يوه خخته د سرو زرو، يوه د سپينو زرو، زمکه د زعفرانو، د کاڼو په ځائے ملغلرې او ياقوت-“ (ترمذی، 236/4، حدیث:2534)

## د جَنَّت عَدن خخته

د جَنَّت عَدن يوه خخته د سپينو ملغلرو ده، يوه د سرو ياقوتو، يوه د شنو زمرُدو او خَټه د مشکو ده او د ګيا په ځائے پکښې زعفران دي، کاڼي يې د ملغلرو او خاوره يې د عنبرو ده- (الترغیب والترہیب، 283/4، حدیث:33)

## جَنَّتي خيمه

په جَنَّت کښې به د يوې يوې ملغلرې خيمه وي د کومې اوچت والے چې به 60 ميله وي- (مسلم، ص1166، حدیث:7158)

## د جَنَّت سيندونه او نهرونه

په جَنَّت کښې 4 سيندونه دي: يو د اوبو، دويم د پئيو، دريم د شاتو او څلورم د شرابو، بيا د دې نه نهرونه وتي دي- (ترمذی، 257/4، حدیث: 2580) د هُغه ځائے نهرونه په زمکه کښې کنستلے شوې نهٔ بهيږي بلکې د زمکې د پاسه به بهيږي، د نهرونو يوه غاړه د ملغلرو، دويمه د ياقوتو او د نهرونو زمکه د خالصو مشکو- (موسوعۃ ابن ابی الدنیا، 334/6، حدیث:68 ملتقطاً) د هُغه ځائے شراب د دُنيا په شان نهٔ دي په کومو کښې چې بدبوئي، تريو والے او نشه وي او څښونکي يې بے عقله او بے اختياره شي او سپکې خبرې کوي بلکې هُغه شراب د دې ټولو خبرو نه پاک او مُنزَّه دي-

(تفسیر ابن کثیر، پ26، محمد، تحت الآیۃ:15، 289/7 ملتقطاً)

## جَنَّتي خوراکونه

جَنَّتيانو ته به پهٔ جَنَّت کښې هر قِسمه خوندور خوراکونه میلاؤيږي او د کوم خوراک خواهش يـې چې وي هغه به فوراً حاضر شي- (تفسیر ابن کثیر، پ24، فصلت، تحت الآیة:31، 162/7) چې پهٔ یوه مرغۍ يـې نظر پریوځي او د هغې د خوراک خواهش يـې شي نو هُغه مرغۍ به ورته کړے شوې پیش شي- (تفسیر درمنثور، پ27، الواقعة، تحت الآیة:21، 11/8) که د اوبو څښلو خواهش يـې شي نو کوزې به يـې پخپله لاسونو ته راشي او پهٔ هغې کښې به د ټیک اندازې مطابق اوبهٔ، شات او پی وي، چې د څومره خواهش يـې وي د هغې نه به نهٔ یو څاڅکے زیات وي نهٔ کم، د څښلو نه پس به هُغه لوښے پخپله د چرته نه چې راغلے وي خپل ځائے ته واپس لاړ شي- (الترغیب والترهیب، 290/4، حدیث:66 ماخوذاً)

## د ګند نه پاک ځائے

ګند، پلیتي، مِتیازې، لاړې، قئے، د غوږ او د وجود خیرے وغیره داسې څیزونه د کومو نه چې انسان له کرکه ورځي، پهٔ جَنَّت کښې به بالکل نهٔ وي- کیدے شي چې څوک سوچ کوي چې خوراک به څنګه هضمیږي؟ نو د هغې صورت اللّٰه پاک پهٔ جَنَّت کښې دا ایښودے دے چې یو ښکلے اډرقے به راشي او د وجود نه به خوشبوداره خوله ووځي پهٔ کومې به چې ټول خوراک هضم شي، د اډرقي او خولې نه به د مشکو خوشبوئي ځي- (مسلم، ص1165، حدیث:7152 ملخصاً)

## هر وخت به تسبیح او تکبیر جاري وي

هر وخت به پهٔ ژبه تسبیح او تکبیر پهٔ اِرادې او بغیر د اِرادې نه د ساه پهٔ شان جاري وي- لکه څنګه چې مونږه پهٔ دُنیا کښې پهٔ څهٔ لوستو لوستو سترې کیږو، پهٔ

جَنَّت کښې به داسې نۀ وي بلکې هلته به بغير د تڪلفه تسبيح او تحميد پۀ ژبه باندې جاري وي- (مسلم، ص1165، حديث:7152)

## 10 زره خادِمان

د هر يو جَنَّتي سر ته به ڪم از ڪم 10 زره خادمان ولاړ وي، د هر يو خادم پۀ يو لاس کښې به د سرو زرو او پۀ بل لاس کښې د سپينو زرو لوښے وي او پۀ هر لوښي کښې به رنګا رنګ نوي نوي نعمتونه وي- (معجم اوسط، 380/5، حديث:7674)او چې څومره يـې خورې خوند به يـې نۀ کميږي بلکې زياتيږي به، د دُنيا د خوراکونو پۀ شان به نۀ وي چې پۀ وړومبۍ نمړۍ کښې به يـې خوند زيات وي بيا ورو ورو خِيته ډکيدل شروع شي نو مزه به يـې کميږي- که يو څيز يو څو ورځې وخوړلے شي نو هغه ښه هم نۀ لګي بلکې د بعضې څيزونو پۀ ليدو ترينه زړۀ مړيږي لکه څنګه چې د مټهايانو د دکان پۀ مخه څوک تير شي نو کيدے شي چې د هغۀ پۀ خُله کښې اوبۀ راشي خو پۀ هُغه دکان کښې د کار کوونڪو د مټهايانو سره دومره رغبت نۀ وي ځکه چې هغې ته پۀ کتو د هغوئي زړونه ماړۀ شوي وي-

## پۀ هره نمړۍ کښې 70 خوندونه

د جَنَّتي خوراک پۀ هره نمړۍ کښې به 70 قِسمه خوندونه وي، د دُنيا پۀ خوراکونو کښې دومره خوندونه نۀ وي البته د يو څو خوراکونو د يو ځائے کولو سره د هغې خوندونه ضرور بدليږي مثلاً د بريانۍ او د زردې پۀ ميلاوهلو يو دريم خوند محسوسيږي کوم چې نۀ د بريانۍ وي او نۀ د زردې، د دُنيا خوراکونه د يو بل خوند ختموي او پۀ يو وخت کښې مختلف خوندونه بيل بيل محسوسيږي هم نۀ خو د جَنَّتي خوراکونو پۀ هره نمړۍ کښې به 70 خوندونه بيل بيل محسوسيږي او يو خوند به بل نۀ ختموي-

## د جَنَّتیانو لباس او ځواني

د جَنَّتیانو لباس به نهٔ زړیږي او نهٔ به د جَنَّتیانو ځواني ختمیږي۔
(مسلم، ص1166، حدیث:7156)

جَنَّتیان به پهٔ جَنَّت کښې د 30 کالو ښکاري۔ (ترمذی، 244/4، حدیث:2554) د جَنَّتیانو ځوانۍ له به چرې هم زوال نهٔ راځي خو پهٔ دُنیا کښې ځوانۍ لره زوال شته نو کوم ګس چې پهٔ دُنیا کښې اوس د 30 کالو دے هغه به بل کال د 31 شي او بیا به یې د عمر زیاتیدو سره سره ځواني تیریږي تر دې چې یو وخت به داسې هم راشي چې د بوډا والي له وجهې به یې مخ راکوت کیږي او ملا به یې راټیټه شي۔ یاد ساتئ چې د جَنَّت د پاره هیڅ میعاد مقرر نهٔ دے چې د 50 یا 100 کالو پورې به باقي وي او بیا به فنا شي بلکې جَنَّت د همیشه همیشه د پاره دے او جَنَّتیان به همیشه پهٔ دې کښې اوسیږي او د هغوئي ځوانۍ له به زوال نهٔ راځي۔

## د جَنَّتیانو پړقیدونکي مخونه

د ټولو نه وړومبۍ ډله کومه به چې جَنَّت ته داخلیږي د هغوئي مخونه به د څوارلسمې د سپوږمۍ پهٔ شان ځلیږي او دویمه ډله کومه چې به جَنَّت ته ځي د هغوئي مخونه به داسې وي لکه پړقیدونکے ستورے۔ (بخاری، 393/2، حدیث: 3254)

## پهٔ جَنَّت کښې به بُغض، کینه او حَسَد نهٔ وي

جَنَّتیان به ټول یو قِسم زړهٔ لري، د دوئي ترمینځه به هیڅ بُغض او کینه یا حَسَد نهٔ وي۔ (بخاری، 393/2، حدیث:3254) پهٔ دُنیا کښې د بُغض او د کینې پهٔ وجه یو ګس پهٔ بَل ګس باندې ښهٔ نهٔ لګي خو پهٔ جَنَّت کښې به داسې نهٔ وي، هلته به د هر یو د بَل سره محبت وي، څوک به حسد نهٔ کوي، پهٔ خپل مینځ کښې به جګړې، کنځلې او وهل ډبول نهٔ وي۔ غصه او ګوریدل وغیره د دُنیا پریشانۍ به پهٔ جَنَّت کښې نهٔ وي۔

## پهٔ جَنَّت کښې به نهٔ څهٔ غم وي او نهٔ بيماري

پهٔ جَنَّت کښې به نهٔ څهٔ غم وي او نهٔ به څهٔ تکليف او بيماري لکه څنګه چې پهٔ دُنيا کښې د چا پهٔ خِيټه باندې درد وي نو څوک د ساه لنډي مريض جوړيږي، څوک د تې بي پهٔ رنځ اخته وي نو څوک ټوخے نهٔ پريږدي، څوک د کينسر ښکار شي نو څوک د بلې يوې خطرناکې بيمارۍ، پهٔ جَنَّت کښې به هيڅ قِسمه مرض، څهٔ غم او څهٔ تکليف نهٔ وي-

## د حورِ عين (يعنې د غټو سترګو والا حورو) حُسن او ښکلا

پهٔ جَنَّتيانو کښې به هر يو ته د حورِ عين نه کم از کم دوه بيبيانې داسې ميلاؤيږي چې اويا اويا جوړې به يـې اغوستې وي بيا به هم د هغوئې پهٔ جامو او د غوښې نه بهر د هغوئې د پنډو نَلي داسې ښکاري لکه څنګه چې پهٔ سپينه شيشه کښې سرهٔ شراب ښکاري- (بخاری،393/2، حديث:3254۔ معجم کبير، 166/10، حديث: 10321) دا پهٔ دې وجه چې الله پاک د دوئې تشبيه د ياقوتو سره ورکړې او پهٔ ياقوتو کښې که سورے اوکړے شي او تار پکښې واچولے شي نو ضرور به د بهر نهٔ ښکاري- (ترمذی،239/4، حديث:2541) انسان به خپل مخ د هغې پهٔ مخ کښې د آئينې نه هم زيات صفا ويني او پهٔ هغې باندې به چې د ادنیٰ درجې کومه ملغلره وي هغه به داسې وي چې د مشرق نه د مغرب پورې علاقه به روښانه کړي- (مسند امام احمد، 150/4، حديث:11715) پهٔ يو روايت کښې دي: که سرے د هغې د اوګو ترمينځه شاته لاس کيږدي نو د هغې د مخې نه به خرمن او غوښه د جامو نه بهر پهٔ نظر راځي-
(الترغيب والترہيب ، 298/4، حديث:96)

که جَنَّتي جامې پهٔ دُنيا کښې واغوستے شي نو څوک يـې چې ويني هغه به بے هوشه شي او د خلقو سترګې به هغه برداشت نکړے شي- (الترغيب والترہيب،294/4، حديث:84)

پهٔ دې باندې ځان داسې پوهه کړئ چې نمر کله ښهٔ پوره روښانه شي نو هُغه وخت چې څوک ورته ګوري د هغه سترګې به بريښيږي او د نمر رڼا به برداشت نکړے شي- دا مثال صرف د پوهه کولو د پاره دے ګني الله پاک ښهٔ پوهيږي چې جَنَّتي جامې به څنګه وي کومو ته چې به انسان نشي کتلے-

## د حورې د خُلې د لاړو اثر

که يوه حوره پهٔ سمندر کښې لاړې توکړي نو تريخ سمندر به خوږ شي- که جَنَّتي زنانه پهٔ 7 سمندرو کښې لاړې توکړي نو هغه به د شاتو نه هم زيات خواږهٔ شي- (الترغيب والترهيب، 4/299، حديث: 98، 99)

## د حورو سندره

کله چې يو جَنَّتي جَنَّت ته لاړ شي نو د هغهٔ د سر او ښپو طرف ته به دوه حورې ډير پهٔ خوږ اواز سندرې وائي خو د هغوئي سندره به د شيطاني موسيقۍ او سندرو والا نهٔ وي لکه څنګه چې نن سبا مَعَاذَالله! وئيلے کيږي بلکې د الله پاک حمد او ثنا به بيانوي- (معجم کبير، 8/95، حديث: 7478 ماخوذاً) هغوئي به د داسې خوږ اواز والا وي چې د هغوئي پهٔ شان خوږ اواز به نهٔ چا اوريدلے وي او هغوئي چې کومه سندره وائي د هغې مضمون څهٔ داسې دے: مونږ هميشه پاتې کيدونکې يو چرې به نهٔ مړې کيږو، مونږ د سکون والا يو چرې به پهٔ تکليف کښې نهٔ اخته کيږو، مونږه راضي يو ناراضه کيږو به نهٔ او اُمبارکي ده د هغهٔ د پاره څوک چې زمونږ شو او مونږ د هغهٔ شو- (ترمذی، 4/254، حديث: 2573)

## ټول جَنَّتيان به بےږيرو وي

د سر، باڼو او وروزو نه علاوه به د جَنَّتي پهٔ وجود باندې چرته هم ويښته نهٔ وي، ټول جَنَّتيان به بےږيرو وي، د تورو کړے شوو سترګو او د 30 کالو عمر به

ښکاري- (ترمذی، 244/4، حدیث: 2554)

## پهٔ جَنَّت کښې خوب نشته

پهٔ جَنَّت کښې خوب نشته ولې چې خوب يو قِسم له مرګ دے او پهٔ جَنَّت کښې مرګ نشته- (شعب الایمان، 183/4، حدیث: 4745)

## چې خوب نهٔ وي نو د پريشانۍ سره به مخ کيږې

کيدے شي چې د چا پهٔ ذِهن کښې دا خبره راشي چې که پهٔ جَنَّت کښې خوب نهٔ وي نو د ډيرې پريشانۍ سره مخ کيدے شو ځکه چې د خوب سره سکون حاصليږي، پهٔ دې باره کښې عرض دے چې جَنَّتيانو ته به الله پاک داسې راحتونه او اسانۍ عطا کوي چې هغوئي ته به هلته د خوب هډو ضرورت نهٔ پيښيږي-

وګورئ چې د خوشحالۍ پهٔ وجه هم پهٔ خوب کښې کمے راځي لکه څنګه چې پهٔ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې خلق د خوشحالۍ پهٔ وجه شپې ويښې تيروي او د ورځې څهٔ لږ ډير ارام کوي او پهٔ کار روزګار کښې مصروف اوسي، دغه شان د وادهٔ ښادۍ او د ميلو وغيره پهٔ موقع باندې هم د خوشحالۍ پهٔ وجه خوب نهٔ راځي او خلق 24، 24 ګينټې پهٔ ويښه تيروي نو چې د دُنيا د عارضي خوشحالۍ دا حال دے چې پهٔ خوب کښې کمے راځي نو د جَنَّت د خوشحالۍ حالت به څهٔ وي! هلته به جَنَّتيانو ته د الله پاک د طرف نه داسې اسانۍ، راحتونه او خوشحالۍ ورکړے کيږي چې هغوئي ته به د خوب هډو حاجت نهٔ پيښيږي-

لکه څنګه چې د خوشحالۍ پهٔ وجه باندې پهٔ خوب کښې کمے راځي دغه شان پهٔ کاروبار کښې د ترقۍ کولو يا د يو کار د سيزن راتلو پهٔ وجه هم پهٔ خوب کښې ډير کمے راځي لکه څنګه چې پهٔ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې د درزيانو سيزن راځي نو هغوئي شپه ورځ پهٔ جامو ګنډلو کښې تيروي، د هغوئي سره نهٔ د تروايح فِکر وي،

نۀ د روژې خيال، بس هغوئي پۀ دې سوچ کښې وي چې پۀ څۀ طريقه زمونږه وخت زيات شي، شپې او ورځې هغوئي ته ورې معلوميږي او د کار مشغولتيا د هغوئي خوبونه تښتوي- دا حقيقت دے چې پۀ دُنيا کښې انسان پرله پسې پۀ ويخ پاتې کيدو کار نشي کولے، دۀ ته پۀ 24 ګينټو کښې د څۀ نا څۀ خوب ضرورت وي البته بعضې خلق داسې سخت وي چې دوه دوه، درې درې بلکې د څلورو څلورو ورځو پورې هم ويخ پاتې کيږي او کارونه کوي-

بهر حال دا د الله پاک نظام دے چې پۀ جَنَّت کښې به خوب نۀ راځي او د خوب نۀ راتلو پۀ وجه به د جَنَّتيانو سره هيڅ قِسمه پريشاني هم نۀ وي-

## د اميرِ اهلِسُنَّت خواهش

اميرِ اهلِسُنَّت، مولانا محمد الياس قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د نيکۍ د دعوت د عام کولو پۀ باره کښې د خپل خواهش پۀ اِظهار کولو اِرشاد فرمائي: زما زړۀ غواړي چې کاش! ما له خوب نۀ راځي او د خوب نۀ راتلو پۀ وجه زۀ بيمار او ناراسته هم نشم او 24 ګينټې چمتو اوسم او د دِين کار کووم، ظاهره ده چې د دې خواهش پوره کيدل ګران دي ځکه چې خوب راتلل هم د الله پاک يو نظام دے کوم چې به جاري وي-

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** دُنيا د اِمتحان يو ځائے دے ځکه دلته تکليفونه، پريشانۍ، بنديزونه او قِسما قِسم مسئلې دي خو مونږ چې کله پۀ دې امتحان کښې کامياب شو او جَنَّت ته لاړ شو نو دا ټولې پريشانۍ، تکليفونه او بنديزونه به ختم شي- جَنَّت د الله پاک د قدرت داسې مظهر دے چرته چې به د انعامونو او اِکرامونو بارانونه وي او هيڅ قِسمه پريشاني به نۀ وي- پۀ جَنَّت کښې به نۀ خو کافران وي او نۀ داسې خلق د کومو سره چې مونږ جنګ جګړې اوکړو، هلته به هر طرف ته امن وي-

## د سرو او سپينو زرو منبر

پۀ جَنَّت کښې به د سرو او سپينو زرو منبر وي او پۀ جَنَّتيانو کښې چې به کوم د اَدنیٰ درجې جَنَّتي وي هغه به د مشکو او کافورو پۀ ډيري باندې کښيني او پۀ هغوئي کښې ادنیٰ څوک هم نشته، پۀ خپل ګمان کښې به د کرسۍ والا څوک د ځان نه اوچت نۀ ګڼي- (ترمذی، 246/4، حدیث:2558) يعنې دا به نۀ ګڼي چې فلانکي ته خو د نُور کرسۍ ورکړے شوې ده او زۀ د کافورو پۀ ډيري باندې ناست يم، هلته به د چا د چا سره حسد او ارمان نۀ وي چې د هغه پۀ زړۀ کښې خفګان پيدا شي-

## بې تکلفه د الله پاک ديدار

پۀ جَنَّت کښې به د الله پاک ديدار داسې صفا او بې تکلفه کيږي لکه څنګه چې پۀ لکونو انسانان نمر او سپوږمۍ ته د خپل خپل ځائے نه ګوري او چا ته پۀ پنجو باندې ودريدل او پۀ سر اوچتولو سره د کتو ضرورت نۀ وي- الله پاک به پۀ هر جَنَّتي باندې تجلي فرمائي او چا ته به فرمائي: اے فلانکي د فلانکي ځويه! تا ته ياد دي چې پۀ کومه ورځ چې تا داسې کړي وو؟ يعنې د دُنيا ډير ګناهونه به وريادوي، بنده به عرض کوي: اے پروردګاره! آيا تا زۀ نۀ ووم بخښلے؟ فرمائي به: آؤ! زما د بخښنې د وسعت پۀ وجه تۀ دې مرتبې ته راورسيدې، ټول جَنَّتيان به پۀ دې حالت کښې وي چې وريځه به راخوره شي او پۀ دوئي باندې به داسې خوشبوئي اووروي چې هُغه شان خوشبوئي به هغوئي مخکښې چرې هم نۀ وي بوئي کړې- بيا به الله پاک فرمائي: د هُغه عزت طرف ته لاړ شئ کوم چې ما ستاسو د پاره تيار کړے دے او څۀ چې غواړۍ واخلئ- خلق به د جَنَّت يو بازار ته لاړ شي کوم نه ګيرچاپير چې فرښتې ولاړې وي، پۀ دغه بازار کښې به داسې څيزونه وي د کومو مثال چې به نۀ سترګو ليدلے وي، نۀ به غوږونو اوريدلے وي،

نهٔ به پهٔ زړهٔ کښې د هغې خيال راغلے وي، هلته به اخستل او خرڅيدل نهٔ کيږي بلکې د چا چې کوم څيز خوښيږي هغه به هغهٔ ته ورکړے کيږي- جَنَّتيان به پهٔ خپل مينځ کښې ملاقات کوي، د وړې مرتبې والا چې کله د اوچتې مرتبې والاويني نو د هغهٔ جامې به د هغهٔ خوښې شي او بيا به هُم پهٔ لږ سعت کښې خپلې جامې هغهٔ ته د هُغې اوچتې مرتبې والا جَنَّتي د جامو نه ښې ښکارې او داسې به ځکه وي چې پهٔ جَنَّت کښې هيڅ قسمه غم نشته- بيا به جَنَّتيان د بازار نه خپلو خپلو کورونو ته واپس راځي، هلته به د دوئي ښځې دوئي ته هر کلے وائي او اُمبارکي به ورکوي او وائي به چې: تاسو راواپس شوئ او ستاسو حُسن د هغې نه ډير زيات شوے دے کله چې تاسو زمونږ د خوا نه تلي وئ، هغوئي به جواب ورکوي: د الله پاک پهٔ حضور کښې مونږ ته د حاضرئ شرف راعطا کړے شو او مونږ د الله پاک د ديدار سعادت حاصل کړو نو ظاهره ده چې زمونږ حُسن به زياتيږي-

(ترمذی، 246/4، حديث:2558 ملتقطاً)

## د جَنَّتيانو د ملاقات طريقه

مونږ چې دلته پهٔ دُنيا کښې د چا ملاقات کوو نو بعضې وخت پهٔ بسونو وغيره کښې راته سفر کول وي او د ډيرو تکليفونو سره مخ کيږو خو د جَنَّتيانو به پهٔ خپل مينځ کښې د ملاقات انداز ډير ښکلے وي او پهٔ دې کښې به د هيڅ قِسمه ستونزو سره مخ کيدل نهٔ وي، هغوئي که چرې ملاقات کول غواړي نو د يو تخت به د بَل خوا له ځي- (جمع الجوامع، 152/1، حديث:993) او پهٔ يو روايت کښې دي چې د هغوئي سره به ډيرې د اعلیٰ درجې سورلئ او اَسونه راوستلے کيږي پهٔ کومو چې به هغوئي کښيني او چرته چې غواړي ځي به- (ترمذی، 244/4، حديث:2553)

## د ټولو نه د کمې درجې والا جَنَّتي

د ټولو نه د کمې درجې والا چې کوم جَنَّتي وي د هغۀ باغونه، بيبياني، خادمان او تخت به د زر [1000] کاله پۀ مزل باندې وي او پۀ هغوئي کښې به د الله پاک پۀ نزد د ټولو نه عزت مند هغه وي کوم چې به د هغۀ د ديدار روزانه سحر او ماښام سعادت حاصلوي- (ترمذی، 4/248، حدیث:2562ماخوذاً)

## د الله پاک د ديدار نه زيات به بَل هيڅ يو نعمت نۀ وي

کله چې جَنَّتيان جَنَّت ته داخل شي نو الله پاک به هغوئي ته فرمائي: څۀ نور څۀ غواړئ چې زۀ تاسو له درکړم؟ هغوئي به عرض کوي: اے الله! تا زمونږ مخونه روښانه کړۀ، مونږ مو جَنَّت ته داخل کړو او د دوزخ نه مو ازاد کړو، هُغه وخت به د مخلوق نه پرده لرې شي او د الله پاک د ديدار نه زيات به د هغوئي د پاره هيڅ يو نعمت نۀ وي- (مسلم، ص95، حدیث:449)

## حوضِ کوثر

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د دې نعمتونو نه علاوه هم پۀ جَنَّت کښې بے شميره نعمتونه دي- هلته "کوثر (يعني نهر)" هم دے بلکې زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به دوه حوضونه وي يو د پل صراط نه مخکښې او دويم د پل صراط نه پس، د هُغه دواړو نومونه کوثر دي- (التذکرۃ باحوال الموتی، ص291) د قيامت پۀ ورځ باندې به د الله پاک خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپلو تږو غلامانو ته ډک ډک جامونه عطا کوي- (بخاری، 4/268، حدیث:6583 ماخوذاً) څوک چې يو ځل د حوضِ کوثر نه اوبۀ وڅښي هغه به چرې هم نۀ تږے کيږي- (بخاری، 4/267، حدیث:6579) هسې خو به د هر يو نبي د پاره يو حوض وي د کوم نه چې

به د هغهٔ اُمت اوبهٔ څښي او هغوئي به د خپل اُمت پهٔ زياتوالي باندې فخر کوي خو د ټولو نه زياته شميره به د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اُمتيانو وي، پهٔ حديثِ پاک کښې دي: د هر يو نبي د پاره يو حوض دے او هغوئي پهٔ خپل مينځ کښې فخر کوي چې د چا حوض له زيات خلق راځي، زما اميد دے چې زما حوض له د راتلونکو شميره زياته ده- (ترمذی، 200/4، حدیث:2451 ملتقطاً)

## يو سوال او د هغې جواب

کيدے شي چې د چا پهٔ ذِهن کښې دا پوښتنه راشي چې پهٔ جَنَّت کښې حوضِ کوثر هم دے او پاک شراب هم دي، شات هم دي او اوبهٔ او پیٔ هم دي، چې پهٔ جَنَّت کښې به څوک تږے کيږي نهٔ نو جَنَّتيان به دا ولې څښي؟

د دې جواب دا دے چې جَنَّتيان به دغه شربتونه د خوند د پاره څښي او څومره چې به يــې څښي د هغې خوندونه به هُغه همره زياتيږي- (مراٰۃالمناجیح، 485/7 ماخوذاً)

پهٔ دې باندې نور ځان پهٔ دې مثال سره پوهه کړئ چې کله مونږ تږي شو نو مونږ اوبهٔ څښو او بعضې وخت د اوبو څښلو نه پس هم چائے څښو، پهٔ داسې حالت کښې مونږ چائے د تندې ماتولو د پاره نهٔ بلکې د خوند د پاره څښو- دغه شان مونږ شربت، يخې بوتلې او شوملې [يعنې لَسي] وغيره شربتونه هم د خوند د پاره څښو-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! واقعي ده چې د جَنَّت نعمتونه داسې نهٔ دي چې هغه پريښودے شي- هُغه کَس خوش قِسمته دے کوم چې جَنَّت ته داخِل کړے شي او هُغه کَس بد نصيبه دے کوم چې د جَنَّت نه محرومه کړے شي- وګورئ چې جَنَّت دومره عظيمُ الشان دے او پهٔ دې باندې زمونږ پوخ يقين هم دے نو بيا مونږ د دې د حاصلولو کوشش ولې نهٔ کوو؟ د دُنيا هم دا دستور دے چې که يو څيز حاصلول وي نو د هغې د پاره کوشش کول پکار وي مثلاً که نوکري

حاصلول وي نو د هغې د پاره بنده ښې ډيرې منډې ترړې وهي، تقريباً د 20 يا 25 کالو پورې تعليم حاصلوي د پاره د دې چې ښه نوکري ميلاؤ شي او که د نوکرۍ نه مخکښې وفات شي نو د هغهٔ د مور پلار د قِسمت خبره ده ځکه چې مور او پلار خو هم دا غواړي چې زمونږ بچے ډاکټر يا انجنيئر جوړ شي خو بعضې وخت د تعليم پهٔ اخري کال هغه وفات شي- صرف ډګري حاصلول د نوکرۍ ميلاؤيدو ضمانت نهٔ دے، دې د پاره نورې منډې ترړې هم وهل وي مثلاً د نوکرۍ د پاره انټرويو ورکول وي او پهٔ انټرويو کښې د پاس کيدو د پاره يا خو سفارش کول وي او يا بيا د رشوت نه کار اخستل وي او بعضې وخت پهٔ څهٔ داسې اداره کښې د نوکرۍ د حاصلولو د پاره چرته چې امدن او سهولتونه زيات وي انسان ښهٔ ډير کوشش کوي بيا ورته چرته هغه نوکري ميلاؤيږي-

د حيرانتيا خبره ده چې د دُنيا د يوې نوکرۍ د پاره انسان د خپل ژوند يوه حصه د دې د پاره پهٔ حلو ځلو کښې تيروي خو عظيم الشان جَنَّت د کوم نعمتونه چې نهٔ د چا سترګو ليدلي دي، نهٔ د چا غوږونو د هغې پهٔ باره کښې اوريدلي دي او د کوم پهٔ موجودتيا باندې چې د هغهٔ پوخ يقين هم دے د هغې د حاصلولو د پاره کوشش نهٔ کوي- آه! بنده څومره نادانه او بے عقله دے چې د دُنيا د عارضي نعمتونو د حاصلولو د پاره ښهٔ ډير محنت کوي خو د جَنَّت د هميشه هميشه پاتې کيدونکو نعمتونو د حاصلولو د پاره محنت نهٔ کوي حالانکې د هغې د حاصلولو د پاره دومره کوششونه کول نهٔ غواړي او د هغې حاصلول هم ډير اسان دي مثلاً د نـمونځ کوونکي د پاره د جَنَّت زيري دي نو پهٔ نـمونځ کولو کښې څهٔ تکليف دے؟ پهٔ نوکرۍ کښې 8، 10 بلکې دولس دولس ګينټې محنت کول وي خو پهٔ نـمونځ کولو لس، پينځلس يا زيات نهٔ زيات شل منټه لګي، که تاسو پينځهٔ واړه نـمونځونه را يو ځائے کړۍ نو

يوه ګينټه يا پاؤ باندې يوه ګينټه پرې لګي او د دې په بدل کښې د جَنَّت ميلاؤيدو پوره موقع ده خو افسوس چې دا اسان کار زمونږ نه نۀ کيږي۔

د دې اُلټا د دُنيا حاصلولو د پاره ډير زيات محنت کول وي او په دې لاره کښې پريشانئ، افتونه، مصيبتونه او قِسما قِسم ازميښتونه هم راځي، د دې باوجود د دُنيا د حاصلولو د پاره هر قِسمه محنت او قرباني مونږ برداشت کوو خو جَنَّت کوم چې د نعمتونو کور دے د هغې د حاصلولو د پاره معمولي شان تکليف هم مونږ نشو زغملے۔ حضرت اِمام محمد بن محمد غزالي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د يو بزرګ قول نقل کوي او فرمائي: انسان چې د دولت سره څومره محبت کوي که دومره يـې د جَنَّت سره کولے نو دواړه به يـې موندلے۔ (احياء العلوم، 245/4) خو د بده مرغه دا صرف د مال او دولت سره محبت کوي، د دۀ د پلاټ سره مينه ده، د خپلو دنيائي پټو او باغونو سره يـې محبت دے، د خپل ګودام او د خپل دُکان سره يـې محبت دے، د خپل کور سره يـې محبت دے خو دۀ له چې د جَنَّت سره څنګه محبت کول پکار دي هغسې نشته۔ انسان چې د جَنَّتي نعمتونو په باره کښې واوري او " سُبۡحٰنَ الله " هم ووائي، "صَلِّ عَلٰی مُحَمَّد" هم ووائي، ډير خوشحاله هم شي خو عملي طور د جَنَّت حاصلولو د پاره نۀ تياريږي۔

غور اوکړئ مونږ چې کله د پلاټ ارمان لرو او بيا د هغې د حاصلولو د پاره عملي طور پوره کوشش کوو نو هغه مونږ ته ميلاؤيږي، دغه شان د نوکرۍ د حاصلولو د پاره ښه ډير کوشش کوو نو هغه هم ميلاؤيږي خو د جَنَّت د حاصلولو د پاره زمونږه جذبه ګويا داسې وي چې " که جَنَّت ميلاؤ شي خو ښه ده" يا " جَنَّت ميلاؤيدل پکار دے" يا مونږ په رسمي توګه " د جَنَّت د ميلاؤيدو دُعا" کوو خو عملي ګامونه نۀ پورته کوو۔

# سُنَّت ژوندي کړئ

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! کوم کَس چې پهٔ سُنَّتو باندې عمل اوکړي او هغه ژوندي کړي او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره پهٔ حقيقي معنو کښې محبت اوکړي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! هغه به پهٔ جَنَّت کښې د سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره وي لهذا ښهٔ ډېر پهٔ سُنَّتو باندې عمل اوکړئ او پهٔ مخ باندې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلي سُنَّت ږيره مبارکه هم پرېږدئ چې د دې ډېر فضيلت دے، مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: څوک چې پهٔ دې دور کښې ږيره پرېږدي هغه ته به د 100 شهيدانو ثواب ميلاؤيږي- (مرأة المناجيح، 173/1 ماخوذاً)

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! نن چې پهٔ معاشره کښې د ږيرې کوم سپرلي پهٔ نظر راځي، پهٔ دې کښې د عاشقانِ رسول د دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي هم ډېر لوئي کردار دے ګني مخکښې به د ږيرو والا دومره خلق چرته پهٔ نظر راتلل؟ دا ښکلے سُنَّت ورځ پهٔ ورځ ختميدو-

نن سبا چې پهٔ معاشره کښې د خپل کردار پهٔ وجه چرته د سُنَّت مطابق يوه موټے ږيره پرېښودل ګران کار دے هلته عمامه شريف پهٔ سر کول هم ډېر ګران کار دے- که د عمامې شريفې پهٔ سر کولو ترغيب ورکړے شي نو ډېر خلق دا وائي چې مونږ پهٔ کومه اداره کښې کار کوو هلته پهٔ عمامه شريف پهٔ سر کولو پهٔ مونږ پسې خندا کيږي ځکه مونږ عمامه شريف نشو پهٔ سر کولے- داسې ويونکي عام طور د کردار پهٔ لحاظ سره کمزوري وي مثلاً پهٔ وړو وړو خبرو باندې د خُلې جنګ کول، هڅې بے هيڅه انښتل او بحثونه کول د هغوئي عادت وي، که داسې خلق سنجيده شي نو څوک به هم د دوئي پهٔ عمامه پورې خندا اونکړي-

دا حقيقت او د تجربې خبر ده چې څوک سنجيده او د نيک کردار والا وي هغه پهٔ ږيره مبارکه پريښودو يا د عمامې شريفې پهٔ سر کولو باندې څوک هم نهٔ چيړي- فرض کړئ که د عمامې شريفې پهٔ وجه باندې درپسې څوک خندا کوي نو بنده دې غلے د هُغه ځائے نه لاړ شي، که دوه درې کرته دا طريقه اختيار کړي نو خندا کوونکي به پخپله ټيک شي-

## يوه شيطاني بهانه

بعضې خلق دې د پاره هم عمامه شريف نهٔ پهٔ سر کوي چې پهٔ غلطۍ کيدو باندې به د هغوئي د ذات سره سره پهٔ عمامه شريف باندې هم خلق تنقيد کوي نو د داسې خلقو د پاره عرض دے چې تاسو خپل کردار سوتره ساتئ، با عمله مسلمان جوړ شئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! خلق به ستاسو نه متاثره کيږي او پهٔ تاسو پسې به روانيږي، که ستاسو پهٔ عمل کښې کوتاهي ده، ستاسو ژبه تيرهٔ ده، تاسو له غصه ډيره درځي او پهٔ تاسو کښې هډو ښهٔ اخلاق نهٔ وي نو بيا خو به نهٔ خلق ستاسو ږيرې ته ګوري او نهٔ به مو عمامې شريفې ته، پهٔ تاسو باندې به ښهٔ ډير تنقيد کوي-


خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! تاسو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارک سُنَّت ږيره مبارکه پريږدئ، عمامه شريف پهٔ سر کړئ او د سُنَّت مطابق جامې اغوستل شروع کړئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! ډير زر به ستاسو شخصيت ځليږي او پهٔ خلقو باندې به ستاسو رُعب بحال شي- ياد ساتئ چې د پاجامې او پرتوګ پينسې د ګيټو نه بره پکار دي چې ”کومه کپړه د تکبر له وجهې د ګيټو نه ښکته وي هغه د دوزخ پهٔ وور کښې ده“ (بخاری،4/46، حدیث:5787ماخوذاً) خو د بده مرغه نن سبا خلق د دې پروا نهٔ کوي-

آه! مونږ صرف پهٔ خُله د دوزخ نه بچ کيدل غواړو، دې د پاره د عمل کولو

کوشش نۀ کوو، البته پۀ مونږ کښې هر يو کَس د تنګدستۍ نه د بچ کيدو پوره کوشش کوي- وګورئ! څومره چې مونږ د تنګدستۍ نه ويريږو هُغه همره که د دوزخ نه ويريدے نو د دوارړو نه به بچ کيدے لکه څنګه چې حضرت اِمام محمد بن محمد غزالي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د يو بزرګ پۀ باره کښې نقل کوي: خلق چې څومره د تنګدستۍ نه ويريږي که دومره د دوزخ نه ويريدے نو د دوارړو نه به بچ کيدے-
(احيآء العلوم، 245/4)

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** جَنَّت د الله پاک ډير لوئي نعمت دے، مونږ له پکار دي چې د دې د حاصلولو پوره کوشش اوکړو او ځان د دوزخ نه بچ کړو او د جَنَّت پۀ لار باندې روان شو- الله پاک دې مونږ بے حسابه او بے کتابه جَنَّت ته داخل کړي-

## د راروانې هفتې رساله





فیضان مدینه محله سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچۍ

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net